## مطبوعاتي اعلاميه

## د دعوت يو ځلاند ستوری ولوېد!



﴿مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلاً﴾
[الاحزاب: ٢٣]

*په مومنانو کې داسې کسان شته چې له الله سره ړنبتيني دي او له هغه سره يې په کړې ژمنه وفا وکړه. ځينو خپل عهد پوره کړ (د شهادت جام يې نوش کړ) او ځينې سترګې په لاره دي او په خپله ژمنه او کړنلاره کې يې هېڅ بدلون رانه وست.*

حزب التحرير-ولايه اردن د الله سبحانه وتعالی پر قضاء د ايمان پر اساس د يوه دعوتګر او زموږ د مشر ورور وفات مسلمانانو او د حزب التحرير شبابو ته اعلانوي:

### خليل موسى  ابوغزاله (ابوبلال)

ابو بلال د ٢٠١٧م د سپټمبر پر ٨مه د يکشنبې په سهار د ٨٨ کلونو په عمر د ژونديو له کاروانه لار بېله کړه. نوموړي خپل ټول عمر د الله سبحانه وتعالی اطاعت او له حزب التحرير سره د اسلامي امت د يووالي لپاره دعوت ته وقف کړ. په دې لاره کې د اردن دولت او امنيتي بنسټونو يې وځاره، شکنجه يې ورکړې او حتی له دندې يې ګوښه کړ. دغو ټولو ظلمونو او مختلفو کينو نوموړی د دعوت له مسير او د ثاني راشده خلافت (تاج الفروض) د تاسيس له لارې راونه ګرځاوه؛ ځکه دی پر الله مومن و او د هغه پر نصرت يې باور درلود. دغه راز په دې لار کې صبور او ثابت قدم و او د الله سبحانه وتعالی دا قول صدق ورباندې کوي.

﴿قُلْ إِنَّ صَلاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ [انعام: ۱٦۲]

***ژباړه:*** *ووایه! زما لمونځ، عبادت، ژوند او مرګ د عالمیانو د رب الله لپاره دي.*

له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې زموږ ورور په خپل رحمت کې شامل او جنت الفردوس ورپه برخه او له انبیاوو، صدیقینو، شهداوو او صالحینو سره یې حشر کړي.

﴿إِنَّا لِلّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾

موږ د الله یو او د هغه لور ته ورګرځو.

**د حزب التحریر- ولایه اردن مطبوعاتي دفتر**

**شمېره: ۰۳/۳۹**

**۱۴۳۹هـ.ق، د محرم ۱۸مه**

**۲۰۱۷م، د اکتوبر ۱۰مه، سه شنبه**